د عامې روغتیا وزارت

# روغتیا اوونیزه

## پرلیــکه خپــرونه

### لومړی پړاو - پنځه پنځوسمه ګڼه

۱۴۴۸-۴-۲۵

- د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس لوګر کې روغتیایي خدمتونه و ارزول
- د عامې روغتیا وزیر د روسیې له یو شمېر تخصصي روغتیایي مرکزونو څخه لیدنه وکړه
- په تخار کې د 35 لکه افغانیو په ارزښت یو شمېر روغتیایي پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې
- دیدار وزرای صحت‌عامه افغانستان و روسیه؛ تأکید بر گسترش همکاری‌های صحی میان دو کشور
- د عامې روغتیا وزیر په بېلاروس کې د زړه ناروغیو د درملنې له تخصصي مرکز او پولي کلینیک څخه لیدنه وکړه

د ویاندویۍ، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

## د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس لوګر کې روغتیايي خدمتونه و ارزول




د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس، مولوي محمد سلیم حقاني د یوه تخنیکي ټیم په ملتیا لوګر ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه ولایت له مرستیال والي، شیخ انعام‌الله صلاح‌الدین سره لیدنه وکړه

یاد پلاوي د لوګر د عامې روغتیا ریاست، عمومي روغتون، د خوړو او درملو آمریت او د دغه ولایت له یو شمېر روغتیايي برخو څخه لیدنه وکړه

د دغو لیدنو پر مهال د روغتیايي خدمتونو وضعیت، د خدمتونو وړاندې کولو څرنګوالی او شته ستونزې و ارزول شوې او د خدمتونو د کیفیت ښه والي او د خلکو د روغتیايي اړتیاوو پوره کولو په اړه بحث او خبرې وشوې

همدارنګه، د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس، د لوګر د عامې روغتیا ریاست مسؤلینو ته د روغتیايي خدمتونو ښه والي او اغېزمنتیا په برخه کې لازمې لارښوونې وکړې او د ستونزو پر ګډ حل، خلکو ته د اسانتیاوو پر برابرولو او په شفافو روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو یې ټینګار وکړ

## امضای تفاهم‌نامه 34.2 میلیون افغانی برای حمایت از خدمات صحی در نیمروز و هلمند



وزارت صحت‌عامه به منظور حمایت از برنامه‌های ابتدایی صحی HIV/AIDS توبرکلوز و ملاریا و سیستم‌های صحی در ولایت‌های نیمروز و هلمند، با مؤسسه Relief International تفاهم نامه‌ای به ارزش (34288106) سی‌وچهار میلیون و دوصد و هشتاد و هشت هزار و یک‌صد و شش افغانی امضا کرد

این تفاهم‌نامه به منظور ارتقای کیفیت خدمات صحی، افزایش دسترسی و کاهش مشکلات صحی مردم، برای مدت 20 ماه به امضا رسیده است. که بر اساس آن، از طریق 142 مرکز صحی و 788 پسته صحی، تعداد (2237794) دو میلیون و دوصد و سی‌وهفت هزار و هفت‌صد و نود و چهار تن از باشنده گان ولایت‌های یادشده از خدمات صحی مستفید خواهند شد و برای (13) تن نیز در بخش صحی زمینه کار فراهم خواهد گردید

از سوی‌هم، نماینده گان مؤسسه RI نیز اطمینان دادند که این پروژه را در جریان 20 ماه، مطابق تمام معیارهای تعیین‌شده تطبیق خواهند کرد و به تأمین نیازهای صحی مردم توجه ویژه خواهند داشت

## The Ministry of Public Health conducted the first phase of a six-day training course entitled "Hospital Management" to strengthen hospital management capacity



The training course was attended by directors, medical directors, department heads and a number of other management officials from central hospitals. The training aimed to enhance the capacity of hospital management staff, strengthen management practices and improve the quality of healthcare services. Participants expressed their satisfaction with the training and described such training courses and academic seminars as useful in strengthening managerial capacity and improving the quality of healthcare services.

Dr. Aminullah Momand, Director of Specialized and Tertiary Hospitals of the MoPH, called on all participants to apply the knowledge and skills gained during the training in their respective hospitals and make effective use of them to improve patient care, healthcare management and other related areas, so that timely, standardized and quality healthcare services can be provided to the people.

## د افغانستان ا.ا. د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي او مل پلاوي بېلاروس ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د زړه ناروغیو د درملنې له یوه تخصصي مرکز او پولي کلینیک څخه لیدنه وکړه



د دې لیدنې پر مهال د زړه ناروغیو د تشخیص، درملنې او جراحي خدمتونو، عصري طبي تجهیزاتو، د تخصصي روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو او تنظیم، د زړه ناروغیو درملنې برخه کې د متخصصینو د ظرفیتونو لوړولو او د روغتیایي خدمتونو د معیاري کولو په اړه د دغه مرکز له تجربو څخه معلومات تر لاسه شو

همداراز، د دې سفر پر مهال د بېلاروس هېواد له یو مرکزي پولي کلینیک څخه هم لیدنه وشوه؛ تر څو په افغانستان کې د جوړېدونکو روغتونونو لپاره د پولي کلینیکي خدمتونو د مرکزونو لا پیاوړتیا او په معیاري ډول د هغوی د جوړښت او تنظیم په برخه کې د بېلاروس له تجربو څخه ګټه واخیستل شي

د یادونې وړ ده، چې د یادو مرکزونو د فعالیتونو او کاري تجربو له ارزونې څخه موخه په افغانستان کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو بهیر لا ښه تنظیم، د روغتونونو او پولي کلینیکونو ترمنځ د خدمتونو د همغږۍ پیاوړتیا او د معیاري روغتیایي خدمتونو د پراختیا لپاره د عملي تجربو ترلاسه کول وو

## دیدار وزرای صحت‌عامه افغانستان و روسیه؛ تأکید بر گسترش همکاری‌های صحی میان دو کشور




در این دیدار، در مورد توسعه همکاری‌های صحی درازمدت میان افغانستان و روسیه، تقویت سکتور صحی و سیستم‌سازی، واردات و همکاری در زمینه ادویه، واکسین‌ها و تجهیزات طبی، ارتقای ظرفیت کارکنان صحی، انتقال تکنالوژی‌های جدید و مدرن طبی و بعضی دیگر از موضوعات مهم صحی، بحث و گفتگو صورت گرفت

محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت‌عامه، در این دیدار در مورد نیازمندی‌ها و اولویت‌های سکتور صحی افغانستان معلومات ارائه کرده و از روسیه خواست تا در زمینه ارتقای کیفیت خدمات صحی، تقویت ظرفیت مسلکی کارکنان صحی و ایجاد امکانات مدرن طبی، همکاری‌های بیشتری با افغانستان داشته باشد

از سوی‌هم، محترم میخایل آلبرتویچ موراشکو، وزیر صحت‌عامه روسیه، آماده گی کشورش را برای همکاری‌های تخنیکی در زمینه تقویت سکتور صحی افغانستان ابراز کرد وگفت: روسیه آماده است همکاری‌های تخنیکی خود را در بخش صحت با افغانستان گسترش دهد و برای تقویت هرچه بیشتر روابط صحی میان دو کشور همکاری کند

همچنان، هر دو جانب تأکید نمودند که به منظور تداوم و توسعه همکاری‌های مشترک در بخش صحت، روابط و هماهنگی میان ادارات مربوطه بیشتر تقویت خواهد شد




## The Environmental Health Directorate of the Ministry of Public Health conducted inspections of various facilities in Kabul's 5th District

During the inspections, the managers and staff of the establishments were provided with necessary guidance on maintaining cleanliness and hygiene. Relevant information and awareness materials were also distributed.

In addition, hygiene checklists were completed, the relevant regulations were explained, and staff members of the establishments were instructed to visit the Environmental Health Directorate to obtain health cards.



## په تخار کې د 35 لکه افغانیو په ارزښت یو شمېر روغتیایي پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

یادې پروژې د تخار عامې روغتیا ریاست په هڅو او د آغاخان روغتیایي خدمتونو بنسټ په مالي لګښت د دغه ولایت د ورسج ولسوالۍ په جامع روغتیایي مرکز کې د 35 لکه افغانیو په ارزښت بشپړې او د یوې غونډې په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې
په دغو پروژو کې د ولادي خانګې د نوې ودانۍ جوړول، لابراتوار او د وینې بانک ته د طبي تجهیزاتو برابرول، د روغتیایي مرکز د ودانۍ ترمیم او رنګول، د احاطې دېوال جوړول او یو شمېر نورې پراختیایي پروژې شاملې دي
د تخار ولایت عامې روغتیا رئیس، مولوي شیخ میر صدام د آغاخان روغتیایي خدمتونو بنسټ له دوامدارې همکارۍ او پاملرنې څخه مننه وکړه او ویې ویل: د روغتیایي خدمتونو پراختیا او د خلکو د اړتیاوو پوره کولو په موخه د داسې بنسټیزو پروژو پلي کول د خوښۍ او د ډاډ وړ دي



## یک برنامه آگاهی‌دهی و وقایه از اعتیاد در لیسه عالی شهید عبدالرحیم با اشتراک بیش از 3300 تن از شاگردان برگزار گردید

ریاست عمومی طب معالجوی وزارت صحت عامه، به‌منظور ارتقای ظرفیت کارمندان مدیریتی شفاخانه‌های مرکزی و ولایتی، ورکشاپ آموزشی شش‌روزه را در بخش مدیریت شفاخانه‌ها آغاز کرد
این ورکشاپ در سه مرحله برگزار می‌شود که دو مرحله آن در مرکز و یک مرحله دیگر در ولایت‌ها برگزار خواهد شد. در جریان این ورکشاپ، کارمندان مدیریتی شفاخانه‌های مرکزی و ولایتی در زمینه موضوعات مرتبط با مدیریت شفاخانه‌ها، آموزش‌های لازم را فرا خواهند گرفت
هدف از برگزاری این ورکشاپ، ارتقای توانایی‌های مسلکی کارمندان مدیریتی شفاخانه‌ها، تنظیم بهتر امور مدیریتی و تقویت هرچه بیشتر روند ارایه خدمات در مراکز صحی عنوان شده است

## AFDA Conducts Food Safety, Licensing and Quality Control Activities During Sunbula 1405



During Sunbula 1405, the Directorate of Food Licensing, Registration and Authorisation under the Afghanistan Food and Drugs Authority (AFDA) of the Ministry of Public Health carried out numerous technical and operational activities related to food regulation, registration, licensing, and market supply.

During this period, 65 food products were submitted to the Quality Control Laboratory for testing, while five additional food products were sent to the Faculty of Pharmacy for microbiological testing. Furthermore, following confirmation of the laboratory test results, clearance was granted for 69 types of water and food products and 27 types of confectionery products intended for children.

In addition, 18 food products were rejected due to incomplete documentation, non-compliant packaging or labeling, or unsatisfactory laboratory test results. In the areas of licensing and exports, three operating licenses and 14 Export Health Certificates were issued to food manufacturing companies.

## د عامې روغتیا وزیر د روسیې له یو شمېر تخصصي روغتیایي مرکزونو څخه لیدنه وکړه



د افغانستان ا.ا. د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي روسیې ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې د سرطاني ناروغیو د تشخیص او درملنې روغتون، د ولادي او نسایي ناروغیو او نویو زېږېدلو ماشومانو د پاملرنې او درملنې روغتون، د سرطاني ناروغیو د درملو په برخه کې د څېړنو او نوښتونو له مرکز او د پېښو پر وړاندې د مبارزې او بېړنیو روغتیایي حالاتو د مدیریت له مرکزونو څخه لیدنې وکړې
د دغو لیدنو پر مهال د روسیې روغتیایي سکتور د پرمختللو طبي ټکنالوژیو، د سرطان د تشخیص او درملنې نویو لارو چارو، د سرطاني ناروغیو د درملو په برخه کې د څېړنو او نوښتونو او د بېړنیو روغتیایي حالاتو د مدیریت سیستمونو په اړه معلومات ترلاسه شول
همداراز، د دواړو هېوادونو ترمنځ د روغتیایي تجربو او معلوماتو د تبادلې، د عصري طبي ټکنالوژۍ د کارونې، د روغتیایي کارکوونکو ظرفیت لوړونې او د روغتیا په بېلابېلو برخو کې د همکاریو د پراختیا په اړه خبرې او بحثونه ترسره شول

## امضای تفاهم‌نامه 903 هزار دالری با SCI برای ارائه خدمات صحی در جوزجان و سرپل




وزارت صحت عامه در راستای ارائه خدمات صحی در ولایت‌های جوزجان و سرپل، با مؤسسه بین‌المللی نجات کودکان (Save the Children International-SCI) به ارزش (903’091) نه‌صد و سه هزار و نود و یک دالر امریکایی، تفاهم‌نامه همکاری را امضا کرداین تفاهم‌نامه به‌منظور بهبود کیفیت خدمات صحی، افزایش دسترسی به خدمات صحی و کاهش مشکلات صحی مردم، برای مدت یک سال به امضا رسیده است که بر اساس آن، از طریق 5 مرکز صحی و یک تیم صحی سیار، برای (51’000) تن از باشنده‌گان این ولایت های خدمات صحی ارائه شده و برای (83) تن در بخش صحی زمینه کار فراهم خواهد شد
از سوی‌هم، نمایندگان مؤسسه SCI نیز اطمینان دادند که این پروژه را در جریان یک سال، مطابق با تمام معیارهای تعیین‌شده تطبیق نموده و برای تأمین نیازهای صحی مردم توجه ویژه خواهند کرد

## MoPH Health Laws Enforcement Director Assesses Healthcare Services in Samangan and Northwestern Provinces



Mawlawi Mahmoodullah Zahid, Director of Health Laws Enforcement and Inspection of the Ministry of Public Health, and a technical delegation visited the northwestern provinces to assess the health situation.

They met with Mawlawi Lutfullah Habibi, Director of Public Health of Samangan Province, and inspected the provincial hospital, along with a number of private sector health facilities and hospitals.

Furthermore, during the inspections, the quality of health services, patient care, availability of healthcare workers, staff attendance and discipline, the availability of medicines and medical equipment, laboratory services, hygiene and sanitation, infection prevention and control measures, record-keeping and reporting systems, and the overall condition of the hospitals were assessed in line with the MoPH’s standards.

Recommendations were made to improve the quality of healthcare services, ensure adherence to infection prevention and control measures, make effective use of available resources, and provide patients and other service users with quality healthcare.

## د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس پکتیا کې د روغتیايي خدمتونو وضعیت وارزاوه




د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس، مولوي محمد سلیم حقاني د یوه تخنیکي ټیم په ملتیا پکتیا ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه ولایت له والي، ملا مهرالله حماد سره لیدنه وکړه
یاد پلاوي د پکتیا ولایت د عامې روغتیا ریاست، عمومي روغتون، د خوړو او درملو آمریت او د دغه ولایت له یو شمېر روغتیايي برخو څخه لیدنه وکړه. د لیدنو پر مهال د روغتیايي خدمتونو وضعیت، د خدمتونو وړاندې کولو څرنګوالی او شته ستونزې و ارزول شوې او د خدمتونو د کیفیت ښه والي او د خلکو د روغتیايي اړتیاوو پوره کولو په اړه بحث او خبرې وشوې
همدارنګه، د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس، د پکتیا د عامې روغتیا ریاست مسؤلینو ته د روغتیايي خدمتونو ښه والي او اغېزمنتیا په برخه کې لازمې لارښوونې وکړې او د ستونزو پر ګډ حل، خلکو ته د اسانتیاوو پر برابرولو او په شفافو روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو یې ټینګار وکړ

## قلم مواد و ریجنت‌های لابراتواری توبرکلوز به ریاست صحت عامه 16 ولایت دایکندی تسلیم داده شد



این مرکز صحی با کمک مالی باشنده‌گان منطقه قلوچ ساخته شده و با حضور داکتر رسول خان نظری، رئیس صحت عامه غزنی، کارمندان اداری، نماینده‌گان ریاست اقتصاد، مسئولان مؤسسه تطبیق‌کننده «یار»، علماء، بزرگان قومی و باشنده‌گان محل افتتاح و به بهره‌برداری سپرده شد
رئیس صحت عامه غزنی از اقدام باشنده‌گان منطقه قلوچ قدردانی نموده و افزوده که با آغاز فعالیت این مرکز صحی، دسترسی باشنده‌گان این منطقه به خدمات صحی آسان‌تر شده و نیازهای اولیه صحی آنان در محل زندگی‌شان برآورده خواهد شد

## Three-Day Training Program on Quality Control Laboratory Management Begins



A three-day training programme on "Quality Control Laboratory Management" was launched by the Afghanistan Food and Drug Authority (AFDA) of the Ministry of Public Health, in collaboration with the World Health Organization (WHO), for 44 staff members from provincial quality control laboratories at the AFDA main conference hall.
Speaking at the opening ceremony, Mawlawi Hamdullah Zahid, Deputy Minister for Food and Drugs of the MoPH, stressed the importance of making effective use of the training opportunity, strengthening staff members' professional capacities, and sharing knowledge and experience with colleagues in the provinces.
Participants will receive training on various topics, including quality control and quality assurance, good laboratory practices, laboratory safety, management of equipment and chemicals, the ISO/IEC 17025 standard, and quality management systems (QMS).
The program aims to build the capacity of provincial laboratory staff, strengthen quality management systems, and improve the quality control of food, medicines, and health products across the country.

## د محمد آصف مایل نمونوي عالي لېسې څه باندې 1300 تنه زده کوونکو ته د نشه یي توکو مخنیوي او عامه پوهاوي پروګرام ترسره شو



یاد پروګرام د عامې روغتیا وزارت اړوند د ابن سینا 1000 بستریز روغتون د نشه یي توکو د درملنې او پوهاوي مسؤلینو له لورې تنظیم شوی و، چې د پوهاوي پر اهمیت، د سالم راتلونکي په جوړولو کې د ځوانانو پر رول، د روږدیتوب د مخنیوي پر ارزښت، د روږدیتوب لاملونو، د نشه یي توکو مخنیوي برخه کې د کورنیو او ملګرو رول، د ټولنیز لید له مخې د خطرونو پر وړاندې د مبارزې لارو چارو او پر ټولنې باندې د روږدیتوب د منفي او ناوړه اغېزو په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې شول

همدارنګه، د یادې لېسې مسؤلینو او استادانو د دغه ډول پروګرامونو له جوړېدو څخه هرکلی وکړ او دا ډول پروګرامونه یې د نشه یي توکو مخنیوي برخه کې اغېزمن وبلل

## از امور صحی شفاخانه حوزوی پکتیا نظارت صورت گرفت



هیأتی به رهبری مولوی محمدسلیم حقانی، رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت‌عامه، با همراهی معاون ریاست صحت عامه پکتیا، از امور صحی شفاخانه حوزوی پکتیا نظارت نمودند

در جریان این نظارت، مشکلات و شکایات شماری از بیماران شنیده شد و به مسئولان مربوطه برای بهبود روند ارائه خدمات صحی و رسیده‌گی بهتر به نیازهای بیماران، توصیه های لازم ارائه شد

## د ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار په بېلابېلو ناحیو کې د غاښونو 19 کلینیکونه، 6 لابراتوارونه او یو د راډیولوژۍ مرکز د غیر قانوني فعالیت له امله وتړل شول




د ننګرهار عامې روغتیا ریاست د څارنې ټیمونو د جلال اباد ښار په بېلابېلو ناحیو کې له خصوصي روغتیايي سکتور څخه د غیر قانوني فعالیتونو مخنیوي او روغتیايي قوانینو تطبیق په موخه نظارتونه ترسره کړل، چې په پایله کې یې 19 بابه د غاښونو کلینیکونه، 6 بابه لابراتوارونه او یو باب د راډیولوژۍ مرکز، د فعالیت د اسنادو او مسلکي اشخاصو نه شتون، د حفظ الصحې او نورو معیارونو نه مراعتولو له امله وتړل شول

## Assessment of Food and Drugs Safety Begins in Kandahar



A technical delegation from the Afghanistan Food and Drug Authority (AFDA) of the Ministry of Public Health, led by Dr. Sayed Momin Khan Fedaee, Director of Food Risk Analysis and Surveillance, has begun assessing the food and drug sectors in Kandahar Province to strengthen monitoring and inspection, address existing challenges, and enhance food and drug safety.

The delegation held a consultative meeting with health officials, listened to the concerns of stakeholders, and visited several food manufacturing factories and proposed sites for the establishment of pharmaceutical manufacturing factories.

During these visits, compliance with food safety requirements and the technical standards for establishing manufacturing facilities were assessed, and the necessary guidance was provided.



## په کونړ کې د کتلوي معافیت پروګرام د ودانۍ بنسټ ډبره کېښودل شوه

په کونړ ولایت کې د کتلوي معافیت پروګرام د ودانۍ بنسټ ډبره د یونیسف اداري په مالي ملاتړ، د 15.9 میلیونه افغانیو په ارزښت، د دغه ولایت د عامې روغتیا ریاست مسؤلینو له لوري کېښودل شوه

دغه ودانۍ د کتلوي معافیت پروګرام د فعالیتونو د تنظیم بهیر ښه والي، د واکسینونو د ساتنې لپاره د مناسبو شرایطو برابرولو او د روغتیایي فعالیتونو لا ښه ترسره کېدو په موخه جوړېږي، چې په جوړېدو سره به یې په دې برخه کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو ظرفیت لا پیاوړی شي

د کونړ عامې روغتیا رئیس، قاري مظفر خان مخلص د روغتیایي زیربناوو پراختیا او د واکسینونو ساتنې لپاره د مناسبو اسانتیاوو برابرول مهم وبلل او د روغتیا په برخه کې یې د زیربنایي پروژو د پلي کېدو څخه د ملاتړ ډاډ څرګند کړ




## ده قلم تجهیزات طبی به ارزش مجموعی 466 هزار دالر امریکایی برای 48 مرکز صحی ننگرهار، به مؤسسه تطبیق‌کننده میهن سپرده شد

این تجهیزات از سوی اداره یونیسف در چارچوب پروژه SAFE/HIVA برای شفاخانه حوزهوی ننگرهار و مرکز صحی ولسوالی‌ها فراهم شده است

در این تجهیزات، دستگاه‌های التراساوند، وارمرهای نوزادان، یخچال‌های طبی و شماری دیگر از وسایل ضروری شامل بوده که در حضور رئیس صحت‌عامه ننگرهار و نماینده بخش صحت یونیسف، به ذخیره گاه مرکزی مؤسسه تطبیق‌کننده میهن سپرده شد تا به مراکز صحی مربوط انتقال داده شود



## د دایکندي ولایت عامې روغتیا ریاست ته د 38 زره امریکایي ډالرو په ارزښت 33 قلمه درمل وسپارل شول

یاد درمل د یونیسف دفتر له لوري د ولسوالیو روغتیایي مرکزونو ته د وېش په موخه د دایکندي ولایت عامې روغتیا ریاست ته وسپارل شول

دغه درمل د روغتیایي مرکزونو د درملو د کمښت او د خدمتونو د بهیر ښه والي په موخه شفاف ډول ویشل کېږي

## قلم ادویه مختلف‌النوع به ریاست صحت‌عامه ولایت دایکندی تسلیم 33 داده شد

قلم ادویه مختلف‌النوع به ارزش بیش از 38 هزار دالر امریکایی از سوی دفتر یونیسف، 33 با هماهنگی ریاست صحت‌عامه دایکندی، برای توزیع به مراکز صحی ولسوالی‌ها سپرده شده است

این ادویه‌ها به منظور رفع کمبود ادویه‌یی مراکز صحی و بهبود روند ارائه خدمات تداوی تهیه شده و مطابق نیازمندی مراکز صحی، به‌گونه شفاف توزیع و در خدمت بیماران قرار خواهد گرفت




## MoPH Signs $1.668 Million MoU with SCI to Provide Health Services in Kandahar and Faryab

The Ministry of Public Health signed a two-year Memorandum of Understanding (MoU) worth $1,668,876 with Save the Children International (SCI) to provide health services in Kandahar and Faryab provinces.

The MoU was signed to improve the quality and accessibility of health services and address health challenges faced by local communities. Under the MoU, 65,263 residents of the two provinces will receive health services through three health facilities, while 50 people will be provided with employment opportunities in the health sector.

Representatives of SCI assured that the project would be implemented over the two-year period in accordance with all established standards, with particular attention to meeting the health needs of local communities.

## د عامې روغتيا وزارت پلاوي په سمنګان کې د روغتيايي خدمتونو او معيارونو وضعيت وارزاوه




د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي قوانينو د تطبيق او پلټنې رئيس، مولوي محمودالله زاهد او مل تخنيکي پلاوي سمنګان ولايت ته د سفر په ترڅ کې د حضرت سلطان ولسوالۍ له روغتيايي مرکز او د روږدو درملنې له 30 بستريز روغتون څخه ليدنه تر سره کړه
د دې ليدنې په ترڅ کې د روغتيايي خدمتونو کيفيت، ناروغانو ته د وړاندې کېدونکو خدمتونو بهير، د روغتيايي کارکوونکو شتون ، کاري نظم، د درملو او طبي تجهيزاتو وضعيت، لابراتوارونو، حفظالصحې، د انتاناتو د کنټرول اصول، د ثبت او راپور ورکولو سيستم او د روغتونونو عمومي وضعيت د عامې روغتيا وزارت له معيارونو سره سم وارزول شول

## هیأت تخنیکی معینیت غذا و ادویه وزارت صحت‌عامه وضعیت تنظیم و مصوونیت غذا و ادویه را در قندهار بررسی کرد



به‌منظور تقویت ظرفیت خدمات صحی و بهبود خدمات تشخیصیه و تداوی، 41 قلم تجهیزات طبی به ارزش بیش از چهار میلیون و شش‌صد هزار افغانی از بودجه وزارت صحت‌عامه خریداری و به شفاخانه 250 بستر ولایتی غور تسلیم داده شد
این تجهیزات تحت نظارت هیات ولایتی خریداری و تسلیم‌دهی شده و هدف از آن تقویت امکانات و ظرفیت‌های تخنیکی شفاخانه و فراهم‌سازی زمینه ارائه خدمات بهتر و به‌موقع صحی برای مریضان عنوان شده است
فراهم‌سازی تجهیزات مورد نیاز، در بهبود کیفیت خدمات تشخیصی و تداوی و رسیده گی بهتر به نیازهای صحی مراجعین این شفاخانه نقش خواهد داشت

## National Blood Bank Conducts “Safe Blood and Safe Blood Transfusion” Training for 20 Doctors from Private Hospital Laboratories and Blood Banks





The second meeting of the Health Innovation Board was held under the chairmanship of Dr. Mohammad Hassan Ghiyasi, Deputy Minister for Health Development and Policy. The meeting was attended by several central directors of the MoPH and representatives of relevant directorates. The Deputy Minister said that the field of innovation requires proposals that can help properly identify real challenges and provide practical, cost effective and sustainable solutions to address them.

He identified the key stages in implementing innovative proposals as identifying challenges; developing solutions and ideas; conducting technical assessment and research; setting priorities; finalizing the proposal; developing an implementation plan; mobilizing the required resources and assigning responsibilities; implementation and monitoring; and evaluating and scaling up successful initiatives. He stressed the importance of organizing these stages accurately and systematically.

Dr. Sayed Rasool Mangal, Director General of Planning and Policy of the MoPH, also said that initiatives implemented to promote innovation should be continuously monitored and evaluated to determine the extent to which their intended objectives have been achieved and the expected results delivered.

Participants were briefed on the report and objectives set during the previous meeting.

Presentations were also delivered on the Standard Operating Procedure (SOP), innovative activities, and their areas of implementation, followed by an exchange of views among the participants.

## د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني له مل پلاوي سره په ګډه د معلولیت او فزیکي بیا رغونې روغتون څخه لیدنه وکړه



په دې لیدنه کې د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، د یاد روغتون بېلا بېلې څانګې وکتلې او د روغتیايي خدمتونو بهیر، د ناروغانو د وضعیت او شته امکاناتو ارزونه یې وکړه
نوموړي د غوره روغتیايي خدمتونو پر وړاندې کولو ټینګار وکړ او مسؤلینو ته یې سپارښتنه وکړه، چې له ناروغانو او مراجعینو سره ښه چلند وکړي، شته ستونزې په وخت حل او د روغتیايي خدمتونو لا ښه والي لپاره لازم اقدامات ترسره کړي

## امضای تفاهم‌نامه 189 هزار و 501 دالری با WAW برای حمایت از خانواده ها و کودکان نیازمند در چهار ولایت



وزارت صحت‌عامه به منظور فراهم‌سازی زمینه تأمین حمایت‌های اجتماعی و اقتصادی و رسیده‌گی به نیازهای حمایتی خانواده‌ها و کودکان نیازمند عودت‌کننده و بی‌جاشده در ولایت‌های بلخ، جوزجان، کندز و بغلان، با مؤسسه Women for Afghan Women (WAW) تفاهم نامه‌ای را به ارزش 189 هزار و 501 دالر امریکایی به امضا رسانید
این تفاهم‌نامه به منظور ارتقای کیفیت خدمات صحی، افزایش دسترسی به خدمات صحی و کاهش مشکلات صحی مردم، برای مدت یک سال به امضا رسیده است که بر اساس آن، از طریق 11 مرکز صحی برای 18 هزار و 239 تن از باشنده‌گان ولایت‌های یادشده خدمات صحی ارائه شده و برای 20 تن نیز در بخش صحی زمینه کار فراهم خواهد شد
از سوی‌هم، نماینده‌گان مؤسسه WAW نیز اطمینان دادند که این پروژه را طی یک سال مطابق تمام معیارهای تعیین‌شده تطبیق نموده و برای رسیده‌گی به نیازهای صحی مردم توجه ویژه خواهند کرد

## Construction of a Basic Health Center Begins in Laghman Province at a Cost of $165,000



Deputy Minister of Food and Drugs Meets with Provincial Quality Control Laboratory Heads

Mawlawi Hamdullah Zahid, Deputy Minister of Food and Drugs of the MoPH, met with the heads of provincial food and drug quality control laboratories at his office to discuss their work status, challenges, needs, and ways to strengthen laboratory activities.

The provincial laboratory heads shared their challenges, concerns, and recommendations, calling for greater attention to the development of laboratory equipment and technical resources, as well as capacity building programs.

After hearing their views and concerns, the Deputy Minister emphasized the critical role of quality control laboratories in ensuring the safety, quality, and compliance of medicines, food products, and health products. He also highlighted the AFDA's plans to establish and further equip laboratories, particularly in customs provinces.

He further assured the participants that the challenges and needs of provincial laboratories would be reviewed and that necessary measures would be taken to address them.

At the end of the meeting, Mawlawi Hamdullah Zahid once again underscored the important role of laboratories in the quality control system and called on officials to carry out their professional duties with accuracy, integrity, and full accountability to help ensure the provision of quality services and better protection of public health.

## د ننګرهار سیمه ییز تخصصي روغتون مسؤلینو ته د 38 زره امریکایي ډالرو په ارزښت رسمي کالي وسپارل شول



په دې مرسته کې د روغتون د کارکونکو لپاره 30 زره جوړې رسمي جامې شاملې دي، چې د یونیسف دفتر له لوري د ننګرهار سیمه ییز تخصصي روغتون ته ډالۍ او د یاد روغتون مسؤلینو ته وسپارل شوې
دغه جامې به د حفظالصحي مراعات، د نظم تأمین او د روغتون په چاپېریال کې د مسلکي اصولو د پلي کولو په موخه د روغتیایي کارکوونکو له خوا کارول کېږي

## د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي او مل پلاوي له لوري په رابعه بلخي تخصصي روغتون کې د هیموډیالیز او فیستولا مجهزې څانګې پرانیستل شوې



په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د عامې روغتیا وزیر د دغو څانګو پرانیسته د هېوادوالو لپاره د روغتیایي خدمتونو لا پراختیا په برخه کې مهم ګام وباله او خوښي یې څرګنده کړه، چې په یاد روغتون کې د هیموډیالیز او فیستولا خدمتونو وړاندې کولو زمینه برابره شوه
ښاغلي وزیر، روغتیایي کارکوونکي د ناروغانو د درملنې او خدمت په برخه کې لا وهڅول او له هغوی یې مننه وکړه، چې په محدودو امکاناتو سره هېوادوالو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي
هغه همداراز وویل: د روغتیایي خدمتونو د کیفیت او لاسرسي ښه والي په برخه کې هر ګام د هېواد د پرمختګ او د خلکو د هوساینې لپاره د ارزښت وړ دی
په دغو نویو فعالو شویو څانګو کې به اړمنو ناروغانو ته د هیموډیالیز او فیستولا اړوند روغتیایي خدمتونه وړاندې کېږي، چې ورسره به د یادو خدمتونو د لاسرسي کچه لوړه او ناروغانو ته به د درملنې زمینه لا اسانه شي
د یادونې وړ ده، چې د هیموډیالیز څانګه د عامې روغتیا وزارت له داخلي بودجې او د فیستولا څانګه د اسلامي پراختیا بانک او د روغتیا نړیوال سازمان په مالي ملاتړ فعاله شوې ده

## MoPH Central Blood Bank Collects 25,000 cc of Voluntary Blood at Etisalat Head Office



The Ministry of Public Health's Central Blood Bank conducted a public awareness and voluntary blood donation campaign at the head office of Etisalat Telecommunications Network.

During the campaign, 25,000 cc of blood was voluntarily donated by 50 employees and transferred to the Central Blood Bank. Following the necessary screening and tests, the donated blood will be distributed to eligible patients in need.

The Central Blood Bank continues to promote voluntary blood donation through blood donation campaigns and public awareness activities, encouraging people to donate blood and help address the needs of patients requiring blood transfusions.

## د سترګو روغتیا ته د پاملرنې او د ړوندوالي د مخنیوي په اړه د عامې روغتیا وزارت غونډه ترسره شوه



په دې غونډه کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د مقام د دفتر لوی رئیس، شیخ محمد طاهر حلیم، د وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو، د روغتیا نړیوال سازمان استازو، د روغتیایي برخې مسؤلینو او د رسنیو استازو ګډون کړی و

د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني په خپلو خبرو کې وویل، چې د سترګو روغتیا ته پاملرنه، د ړوندوالي کچې کموالی او مخنیوی د عامې روغتیا وزارت له لومړیتوبونو څخه دی او په هېواد کې د سترګو د تخصصي روغتیایي خدمتونو د پراختیا لپاره هڅې رواني دي

همدارنګه، د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس، شیخ محمد طاهر حلیم د اسلام له نظره د سترګو د اهمیت او ارزښت په اړه هر اړخیزې وینا ترسره او ویې ویل: چې د سترګو د ساتنې او سمې کارونې په برخه کې باید له بشپړ احتیاط څخه کار واخیستل شي؛ څو د الله تعالی دا ستر نعمت روغ او سالم پاتې شي



ورته مهال، د سترګو د روغتیایي پاملرنې د همغږۍ آمر، ډاکټر آغا محمد عابد طوطاخیل، د یاد آمریت د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې او ویې ویل، تمه ده چې تر 2030 میلادي کال پورې به په هېواد کې د سترګو د تراخوما ناروغي په بشپړ ډول له منځه ولاړه شي

بل لور، د روغتیا نړیوال سازمان استازي، ډاکټر عتیق‌الله اکبري هم په یاده غونډه کې وینا ترسره او ویې ویل، چې لید یوازې د چاپېریال د لیدلو وسیله نه ده، بلکې د پرمختګ او باعزته ژوند بنسټ هم ګڼل کېږي

## ننګرهار کې د بي بي فاطمة الزهرا ولایتي روغتون لپاره د پنځه نیم میلیونه افغانیو په ارزښت 24 قلمه مهم طبي وسایل وپېرل شول



به ارزش پنج‌ونیم میلیون افغانی، 24 قلم وسایل مهم طبی برای شفاخانه ولایتی بی‌بی فاطمة الزهرا در ولایت ننګرهار خریداری و تسلیم این شفاخانه ګردید

مولوی امین‌الله شریف، رئیس صحت‌عامه ولایت ننګرهار، هنګام تسلیمی این وسایل بر استفاده درست، نګهداری و مراقبت از آن‌ها تأکید نموده و ګفت: این وسایل بر اساس توجه ویژه امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی، از بودجه امارتی خریداری شده است

همچنان، داکتر فهد ولی‌زاده، آمر این شفاخانه، از فراهم‌شدن این وسایل ابراز خرسندی نموده و ګفت: این وسایل از نیازهای اساسی شفاخانه بود و با فراهم‌شدن آن‌ها تا حد زیادی مشکلات بیماران حل خواهد شد. وی افزود که پس از این، نیازی نخواهد بود نوزادان مبتلا به زردی برای درمان به شفاخانه‌های ساحوی فرستاده شوند

## دایکندي ولایت کې له خصوصي روغتیایي سکتور څخه نظارت ترسره شو



مسؤولان نظارت و بررسی ریاست صحت عامه ولایت دایکندی، در جریان نظارت از دواخانه‌های اطراف شفاخانه ولایتی، 34 قلم ادویه جمع‌آوری و پنج باب دواخانه به دلیل نقض از قوانین و مقررات صحی مسدود کردند

## د یونیسیف اداري له لوري د کاپیسا عامې روغتیا ریاست ته 31 قلمه درمل او طبي توکي وسپارل شول



یاد درمل او طبي توکي له رسېدو وروسته د عامې روغتیا ریاست د ټاکل شوي پلاوي له لوري د یونیسیف د استازو په شتون کې وشمېرل شول او له اړوندو اسنادو سره یې تطبیق ترسره او له ډاډ ترلاسه کېدو وروسته په رسمي ډول د کاپیسا عامې روغتیا ریاست ته وسپارل شول او په ډیټابیس کې ثبت شول

## د افغانستان ا.ا.ا. د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي او مل پلاوي د اندراګاندي تخصصي روغتون له یو شمېر څانګو څخه لیدنه وکړه



د عامې روغتیا وزیر د روغتون له نرسري وارډ، د پذیرش څانګې او HDU څانګې څخه لیدنه وکړه او د یادو څانګو عمومي وضعیت، د خدمتونو وړاندې کولو بهیر او شته امکانات يې له نږدې وارزول

د عامې روغتیا وزیر د روغتیایي خدمتونو د بهیر ښه والي او شته امکاناتو د اغېزمنې کارونې پر اهمیت ټینګار وکړ او روغتیایي کارکوونکي يې د هېوادوالو لپاره لا غوره روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو ته وهڅول

## ریاست ارتقای ظرفیت وزارت صحت‌عامه، به‌منظور ارتقای ظرفیت‌های مسلکی و اداری کارمندان، دو برنامه آموزشی جداگانه را برگزار کرد



ریاست ارتقای ظرفیت وزارت صحت‌عامه، به‌منظور ارتقای ظرفیت‌های مسلکی و اداری کارمندان، دو برنامه آموزشی جداگانه را برگزار کرد

در این برنامه‌ها، برای 22 کارمند اداری ریاست‌های تفتیش داخلی، صحت محیطی، برنامه ملی تداوی معتادین و ریاست تنظیم شورای نرسنگ و قابله‌گی، آموزش دو روزه اداری و برای 44 کارمند مسلکی شفاخانه ملالی، آموزش سه‌روزه مسلکی در بخش جلوگیری و کنترول انتانات (IPC) ارائه شد

این برنامه‌های آموزشی به‌منظور ارتقای دانش، توانایی‌ها و ظرفیت کاری کارمندان و بهبود کیفیت انجام وظایف آنان برگزار گردید

## MoPH Minister Visits Indira Gandhi Specialized Hospital to Assess Health Services and Facilities



Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health of the IEA, accompanied by a delegation, visited several departments of Indira Gandhi Specialized Hospital.

The Minister visited the hospital's nursery ward, admissions department, and high-dependency unit (HDU), where he closely reviewed the overall condition of these units, the delivery of health services, and the available resources.

H.E Jalali emphasized the importance of improving the delivery of health services and making effective use of available resources, and encouraged health workers to provide better health services to the people.